# پښتو ژبه د پردو د دښمنۍ

# او خپلو د بې قدرئ ښکار

عقيل يوسفزے

په دې خبره ټول ماهرين او خلق متفق دي چې ژبه د يو قام د تشخص يا شناخت يوه معتبره ذريعه ده .ژبه او قام لازم ملزوم ګڼلے کېږي. يعني نه خو يو قام د ژبې نه بغېر قام بللے کېدے شي او نه يوه ژبه د يو ويخ قام نه بغېر خپل يو ځانګړے مقام موندلے شي.

دا د پښتنو خوش بختي ده چې که يو طرف ته د دوي ژبه د زرګونو کالو يو غټ تاريخ لري نو بل خوا نن په يويشتمه صدئ کښې هم دا ژبه د دنيا په هاغه يو څو ژبو کښې شامله ده چې ډېرې پخوانۍ (زړې) دي خو د ورکېدو په ځائې مخ په وړاندې رواني دي.

د ماهرينو د وينا ترمخه پښتو ژبه د عصري تقاضو او ضرورتونو باندې په هر ډول پوره ختلو والا ژبه ده .مطلب دا چې د اولس په مينځ کښې د رابطې او تړون د يو غټې وجې نه علاوه د خپلې پراخې لمن له کبله د جديد دور علمي يا تعليمي ضروريات يا تقاضې هم پوره کوي .خو عملاً دغه دعوه يا تجربه د ډېرو سوالونو سره مخ ده.

د ژبو د نړيوالې ورځې نمانځل د پاکستان د سياست او رياست د پاليسو او تاريخ سره يو بنيادي تړون لري .دا ډېره عجيبه خبره ده چې دغه نړيواله ورځ د پاکستاني حاکمانو او طاقتورو



ادارو د هاغه زياتي يا رويې نتيجه ده چې دوي د ژبې نه د نفرت په بنياد د بنګاليانو سره اختيار کړې وه او پښتانه او بلوڅان نن هم د پاکستان په چوکاټ کښې د ځينې هاغو ګيلو، شکايتونو يا مطالبو په ولقه کښې دي د کومو چې په متحده پاکستان کښې د دوي اکثريت ؤ.

د بنګاليانو د قيام پاکستان يا تقسيم هند نه روستو دوه غټې مطالبې وې .يوه دا چې دوي ته دې د پاکستان په آئين، پارليمنټ او اختيار کښې د دوي د آبادئ يا اکثريت په بنياد برخه ورکړے شي .او بله مطالبه ئې دا وه چې د اردو په ځائې دې بنګالي د دوي سرکاري او تعليمي ژبه اوګرځولے شي .خو بدقسمتئ نه د پاکستان

واکدارانو دغه جایزو مطالبو ته د سپکاوي په سترګه اوکتل او دغه عمل ته ئې د پاکستان سره د غدارئ نوم ورکړو.

نتیجه ئې دا را اوته چې بنګالیانو د خپلو حقونو دپاره یو غټ تحریک شروع کړو .او وروستو دغه تحریک د پاکستان په ماتېدو او د بنګله دیش په نوم د یو نوي هېواد د قیام په شکل کښې خپل مرام ته اورسېدو.

دغه تاریخي تحریک یا مبارزه ځوانانو او طالبعلمانو شروع کړې وه .د دغه تحریک بنیاد په اول کښې خالصتاً د بنګالي ژبې حق ترلاسه کوو خو چې کله د قائداعظم محمد علي جناح پشمول نورو پاکستاني واکدارانو دغه حق رد کړو او د غدارئ نوم ئې ورکړو نو دا په یو مکمل سیاسي جدوجهد کښې بدل شو.

په ډهاکه یونیورستۍ کښې د جناح صېب د یوې جلسې په دوران کښې مطالبه اوکړے شوه چې بنګالیان په خپله ژبه خپل حق او اختیار غواړي .جناح صاحب په دې جایزه مطالبه ډیر د خفګان اظهار اوکړو .او په خپل تقریر کښې ئې دا مطالبه رد کړه.

د ۱۹۷۰ په سلیزه کښې دغه تحریک خپل عروج ته اورسېدو .په دغه دور کښې د بنګالیانو ډېر مشران یا لیډران د پښتنو د سیاسي قیادت پلویان یا اتحادیان وو .پښتنو مشرانو څو ځله د پاکستان واکدارانو ته مشوره ورکړه چې بنګالیانو او نورو قامونو ته دې د دوي حقوق ورکړے شي خو دغه مشوره یا مطالبه هم د بده مرغه د غدارئ په تله کښې واچولے شوه.

هم په دغه سلسله کښې د پاکستان واکدارانو او ادارو په ډهاکه یونیورستۍ کښې په بنګالي طالبعلمانو ګولئ اوچلولې .چې په نتیجه کښې ئې بې شمېره ځوانان شهیدان کړے شول او حالات د پاکستان د قابو نه اووتل .هم د دغې واقعې په پس منظر یا یاد کښې نن په ټوله نړئ کښې د مورنو ژبو ورځ په ډېر اهتمام سره نمانځلے کېږي.

د افسوس خبره دا ده چې د پاکستان حاکمانو او ادارو د دغه واقعې یا تحریک نه هم سبق وانخستو او د پاکستان د ماتېدو باوجود ئې پښتو،بلوڅي،سرائیکي او نورو غټو قامي ژبو لا د دوي مقام،حیثیت او حق ورنکړو.

هم د دغې رویې نتیجه ده چې پښتو ژبه پښتون قام او د دې صاحب علم خلقو خو ژوندئ او تازه ساتلې ده خو دې ته په پاکستان کښې د اردو،انګریزئ یا سندهئ غوندې مقام نه دے حاصل شوے .پښتانه قام پرستان،شاعران، ادیبان، فنکاران او عام اولس مسلسل مطالبه او تقاضا کوي چې د دوي د ژبې دې احترام اوکړے شي، جایز حیثیت دې ورله ورکړے شي او په نصاب کښې دې شامله کړے شي .خو د دوي دا خواهش او جایزه مطالبه نه پوره کېږي او لکه د بنګالیانو د دوي دې مطالبې ته هم د شک او نفرت په نظر کتلے شي.

هم دغه وجه ده چې پښتانه هم د پاکستان په چوکاټ کښې ځان غیر محفوظه او بې اختیاره ګڼي .څو که هم پښتو ژبه نن یو ځانګړے حیثیت لري خو بل خوا دا هم یو حقیقت دے چې یوه ژبه هم تر هغې ترقي نه شي کولے چې تر څو د نصاب او سرکاري یا ریاست ژبه نه وي.

دا ډېره د بدقسمتۍ خبره ده چې د پاکستان غونډې په شان په افغانستان کښې هم پښتو ژبه او پښتانه د خپلې آبادۍ او نمائندګۍ په تناسب د خپل حق او اختيار نه محرومه پاتې شوي دي .په افغانستان کښې د پښتنو د آبادۍ تناسب تقريباً ۷۰ فيصده دے او په دې پښتنون هېواد کښې اکثر واکداران يا بادشاهان پښتانه پاتې شوي دي .خو د افسوس او شرم خبره دا ده چې اکثر واکدارانو عملاً د دري يا فارسي ژبې سرپرستي کړې ده او د سرکاري او درباري ژبې حيثيت هم د پښتو په ځائې دري ته مېلاو شوے دے .د افغانستان پښتون آشرافيه ځان په پښتو وئيلو ملامته او پسمانده ګڼي .دغې رويې په لوئې کور کښې پښتو ترقۍ ته پرې نښوده او نن هم پښتو د سرکاري سرپرستۍ نه محرومه ده.

د کال ۲۰۱۳ د يوې سروے مطابق په کال کښې په سلو کښې صرف پينځه فيصده ساين بورډونه په پښتو کښې وو .باقي په دري او انګريزۍ کښې وو .د دغه سروے ترمخې د افغانستان ديارلس صوبې يا ولايتونه داسې وو چرته چې د پښتو ساين بورډونه يو فيصده هم نه وو .بل خوا د ننګرهار،کندوز او پکتيا غونډې ښخي پښتنو علاقو کښې د دري يا فارسۍ ژبې د بورډونو تناسب د ۲۰ نه واخله تر پينځه ديرشه فيصده وو .که دغه شمېرې يا تناسب ته د اولسي يا کاروباري فکري رجحان په چوکاټ کښې اوګورو نو ثابتېږي ترې دا چې پښتو صرف په پاکستان کښې يتيمه نۀ ده بلکې په خپل کور افغانستان کښې هم د بې قدرۍ سره مخ ده.

په افغانستانکښې چې د مطبوعاتو او ميډيا په مېدان کښې ايران او غير پښتنو افغانانو څومره غټه سرمايه کاري کړې ده او رياست چې د کومې بې قدرۍ په لار روان ښکاري هغې د دې ژبې راتلونکے (مستقبل) د غټې خطرې يا يرې سره مخ کړے دے .پکار ده چې صاحب الرائے او پوهه پښتانه دغې مسئلې ته ډېر په غور متوجه شي. ګني نو پښتو ژبه به په اقليت کښې بدله کړے شي.

بل خوا د پاکستان قام پرسته ګوندونو،شاعرانو او فنکارانو له پکار دي چې د يو مستقل مبارزې او علمي جدوجهد د لارې دې د پښتو د حق کوششونه شروع کړي او دا کوشش دې صرف د يوې خاص موقعې يا طبقې پورې محدود نه وي بلکې د دې دپاره دې ځانګړي ګامونه اوچت کړے شي .د دې سره سره لازمي ده چې د پښتو په نشر ډېر کار اوکړے شي .

وئيلے کېږي چې په يو انسان د خپلې ژبې دومره حق وي څومره چې پرې د مور وي .مور،وطن او ژبه يو بل سره تړلي شوي دي .سوال دا پيدا کېږي چې مونږ لا مور وطن او ژبې څه راکړۀ او مونږ د دوي حق څومره ادا کړو؟

ريښتيا خبره خو دا ده چې مونږ په شعوري، سياسي او علمي توګه خپل دغه حق نۀ دے ادا کړے. دلته بې شمېره خلقو پښتو اوخوړه او معتبرې ئې ترلاسه کړه خو دا ژبه ئې اولسي نه کړه .دې ژبې يا خو ځان پخپله ساتلے دے يا عام اولس د دې سره مينه کړې ده .صرف په تنقيد او بې ځايه دعوو نه خو مونږ د خپل وطن ساتنه کولے شو او نه د خپلې ژبې حق ادا کولے شو .د دې دپاره لازمي شرط دا دے چې مونږ په اجتماعي توګه خپلې ژبې له دومره اهميت او دوام ورکړو څومره چې د دې حق او نمائندګي جوړېږي.